بسم الله الرحمن الرحیم

## بدیل څه دي!؟

هغه پوښتنه چې ډېره یې اوروو؛ کله چې په اسلامي خاورو کې د کومې قضیې او ستونزې خبره مطرح کېږي، نو پوښتنه کوونکی د هغو حلارو بدیل غواړي، چې له اسلام څخه اخیستل شوي دي (ځکه د اسلام احکام معطل دي)

په پیل کې باید ووایم چې موږ د الله سبانه وتعالی په فضل او مهربانۍ سره مسلمانان یو او هغه سبحانه وتعالی موږ پیداکړي یو، چې بنده یې واوسو. دا چې موږ یې بنده ګان یو، نو هغه تعالی هغه ذات دی چې زموږ د هرې ستونزې لپاره د حل لار وړاندې کوي او موږ خپلې د حل لارې یوازې د هغه تعالی له دین او شریعت څخه اخلو.

**﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْراً أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالاً مُّبِيناً﴾** [احزاب: 36]

*__ژباړه:__ هېڅ مومن او مومنه دا حق نه لري، چې کله الله تعالی او د هغه رسول د کومې مسئلې پرېکړه کړې وي او دی یې مخالفت وکړي، باید پرېکړه یې د الله تعالی او د هغه د رسول د پرېکړې تابع وي او څوک چې د الله تعالی او د هغه له رسول څخه سرغړوای وکړي په ښکاره ګمراهی کې وغورځېد.*

په همدې دلیل زموږ لپاره پخپله خوښه د شرعي او عقلي حلارو تر منځ د ټاکلو اجازه نشته، داسې نه چې د حلارو په اخیستلو کې له خپل فکر او شریعت سره مخالفت وکړو. د یادولو ده چې الله سبحانه وتعالی پر موږ د داسې دولت تر سیوري لاندې ژوند کول فرض کړي، چې اسلامي احکام پلي کړي او د کفري نظامونو تر چتر لاندې ژوند یې پر موږ حرام ګرځولی او همدارنګه الله تعالی احکام او حلارې په اسلامي دولت پورې تړلي دي. الله تعالی دا پر موږ فرض ګرځولي، چې که اسلامي دولت نه و (لکه اوسمهال) بیا یې تاسیس کړو او په خپل ژوند کې د کفري نظامونو او سیسټمونو پلي کولو ته اجازه ورنکړو.

کله چې اسلامي دولت له منځه ولاړ، نو طبیعي ده چې هغه نظامونه به پر موږ حاکم کېږي، چې د نفس د هوا پر اساس جوړ شوي او له اسلام سره په مخالفت کې دي. دغه راز ستونزې او قضیې به د هغه څه پر اساس حل او فصل کېږي، چې له اسلام او د اسلام له احکامو سره په ټکر کې دي. کله چې په اسلامي خاورو کې حاکم دولتونه په غرب پورې تړلي او د هغوی مزدوران وي، نو له شک پرته چې په ټولو سیاسي او اقتصادي حلارو کې به له هغه غرب څخه حلارې اخیستل کېږي، چې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې یې زړونه له کینو ډک دي. دغه راز کله چې ټولې قضیې او حلارې د اسلامي دولت په شتون پورې تړلي او اسلامي دولت هم نشته، نو په داسې حال

کې زموږ ټولې ستونزې او حلارې ځينې وخت له حلارې پرته او کله هم د غرب له هغو تېل شوو حلارو سره مخ دي، چې زموږ له دين او شريعت سره په ټکر کې دي او په ورته وخت کې د جنايت کوونکي او ظالم غرب په خدمت کې دي.

وروسته له دې چې ښکېلاکګر دولتونه د اسلامي دولت په له منځه وړلو او ټوټه ټوټه کولو کې بريالي شول، د مسلمانانو د ژوند ټولو برخو کې يې د نقشو پر رسمولو پيل وکړ او کله يې چې واحده خاوره تجزيه کړه، د فلسطين مبارکه خاوره يې يهودو ته وسپارله، څو هلته د خپل ځان لپاره دولت جوړ کړي او وروسته يې له دغه ښکېلاکګر دولت سره د تعامل خط سير رسم کړ، چې وروستی ګام يې يهودو ته د فلسطين خاورې په ورپربښودو کې نرمښت او د چټل رژيم پر قوانينو اعتراف و. ښکېلاکګرو دولتونو هڅه وکړه، څو د فلسطين قضيه يوازې د هغه ځای په اوسېدونکو پورې وتړي او له اسلامي امت سره يې اړيکه ختمه کړي. همدارنګه وروسته يې دغه قضيه د ښکېلاکګرو پر وړاندې له پوځي مبارزې څخه يوې سوله ييزې مبارزې ته ولېږداوه او هغه يې د نړيوالو ظالمو سازمانونو په کنده کې ورواچوله، څو يې په اړه رايه اچونه وکړي او ترې تېر شي. وروسته يې د خپل ليد پر اساس رسم شوې سناريو د ځينو خلکو د منلو وړ وګرځوله او هغه څه يې چې رسم کړي و، ځينو ښکېلاکګرو دولتونو د هغو پر اساس ګام واخيست او ويل به يې چې د فلسطين په قضيه کې ښکېل کېدل حرام او بې ګټې دي.

برعکس کله چې د فلسطين د يوې لوېشتې خاورې د اشغال د حرمت خبره کېږي او همدارنګه د غرب او ښکېلاکګرو دولتونو له لوري د نقشو او پرېکړو ناروا توب يادېږي، له بده مرغه د امت داسې بچيان به ووينې چې نيوکه کوي او وايي چې بديل څه دي؟ د نظام او قانون جوړونې مجلس ايجاد يو له هغو مواردو دی، چې ښکېلاکګرو د فلسطين د قضيې په اړه رسم کړی، تر څو نظام او پارلمان د فلسطينيانو پر وړاندې ودريږي، چې په دغه نظام او پارلمان کې ګډون حرام دی او همدارنګه بيا زموږ له منځه خلک راپورته کېږي او پوښتي چې بديل څه دي؟

زموږ په خاورو کې د کفارو له نقشو څخه يوه هم د سودي بانکونو جوړول دي، که څه هم د سود چټليو ټول مسلمانان ککړ کړي  او کله چې د سود د ګناه خبره وشي، له بده مرغه زموږ له منځه داسې کسان راپورته شي او د نيوکې په توګه پوښتنه کوي، چې بديل يې کوم دی؟

 اسلام د ژوند د ټولو چارو لپاره دی او د ژوند ټولو ستونزو او نويو رامنځ ته شويو قضيو لپاره حلارې لري. بايد ټولې حلارې زموږ له خپل فکر څخه وي او هر کله چې دغه حلارې زموږ له ژوند څخه ليرې شوې، بېرته رامنځ ته کول يې پر موږ لازم دي او په دې دليل پر غير اسلامي حلارو عمل کول جواز نه لري، چې بديل يې نشته. ځينې

دوعوتګران، پیروان او د واقعیت پالنې پر لور روان کسان دا خبره توجه کوي او ځان پاک بولي. نو دا یوه لویه ګناه ده، چې یو مسلمان د فوري حلارې د بدیل د نشت په صورت کې، پر غیر اسلامي حلاره عمل وکړي.

جالبه دا داه، چې دا څه ډول مسلمان دی چې د الله سبحانه وتعالی پر وحدانیت او حقانیت شهادت ورکوي او بدیل له حرامو او منکر څخه اخلي، په داسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی تر ټولو غوره  او ستر قانون او احکامو رانازل کړي دي؟ او هغه احکام او قوانین اصل دي او له هغې پرته باطل.

د «بدیل څه دی؟» پوښتنې طرحه یوه ناوړه طرحه ده، چې د یوه مسلمان له خولې یې راوتل مناسب نه دي او حق په هماغو حلارو ټیکاو دی، چې اسلام راوړي او د هغه خلافت دولت بیا تاسیسولو هڅه ده، چې د اسلامي امت د ټولو قضیو لپاره عملي حلارې لري؛ هغه خلافت چې ژوند او روښنایي ده او د امت ټولې قضیې پکې راټولیږي. نو له موږ څخه غواړي چې د نبوت پر منهج د خلافت دولت د بیا راګرځېدو لپاره له ټولو غوره ارزښتونه ننداري ته وړاندې کړو.

**لیکوال: استاد عطیة الجبارین ـ د فلسطین مبارکه خاوره**

**ژباړن: حبیب الله حبیب**

**۱۴۴۳هـ.ق، د ربیع الاول ۱۴مه**

**۲۰۲۱م، د اکتوبر ۲۱مه**